لیکوال: شهسوار سنگروال تاریخ: ۱۲ اکتوبر ۲۰۲۳

# خراسان د تاریخ په ر ڼا کې، آیا خراسان افغانستان دی؟



**شهسوار سنګروال**

د خراسان په تړاو دېروتاریخپوهانواوڅېړونکو،دېرې څرګندونې کړیدي،ولې یو شمېرلیکنو روایتی او سیاسي بڼه خپله کړیده او په هغورروایتونو اوشعرونو یې دېرتینګارکړي،چې دتاریخ لیکنې له مزاج سره اړخ نه لګوي.

د ساري په توګه فرهنګ د عنصري بلخي (ملک الشعرا) شعر ته په اشاره چې دغزنوی سلطان محمود په ستاینه کې،د هغه پلاز«غزنه» په اړه کښلی،کاړلي دي:

خدایگان خراسان به دشت پشاور

به حمله ای بپراکند جمع آن لشکر(1)

دلته لوستونکی نیوهیري،چې د لیکوال موخه د «خراسان» له نوم نه د دې نوم لرغونتوب دی او که د یوه دولت او هېواد نوم؟

هره خبره چې وي وبیه، خوکه یوازې په شعرد یوه نوم هویت او پېژندنه د تاریخي اوجغرافیوي جوړښت له ارزښتونوپرته دیوه هېواد سیاسي پوله ټاکي،دتامل وړ دی اوکه داسې وي،نوبیا ولې لیکوال په دغه شعر سترګې پټې کړیدي.

ابو الفرج روني پخپله قصیده کې داسې لیکلی دي:

غزوه گوارنده باد، شاجهان را

ناصردین،راعی زمین و زمان را

موکب منصور ا و هنوز به موهند

برتن افغان تنیده است فغان را

مسعود سعد سلمان بیا په دې اند دی:

نه گفتم چیزیا رب نه جستم چیزجز رستن

نه راندم اسب جز پویه ندیدم خلق جزافغان

خاقاني په دې تړاو کښلي دي چې بختیان (پښتانه) افغان او خراسان یانې څه؟

بختیان نفس من که جرس دار شوند      ازدهان جرس افغان خراسان یابم(2)

داسي لسګونه لاسوندونه، بيتونه او شعرونه موندلی شو، چې په هغه کې د افغان موجوديت څرګند دی، ولې د خراسان حددود او وجود نا څرګند دی ... خوشحال ختک وايي:

د افغان په ننګ مې وتړله توره

ننګيالی د زمانی خوشحال ختک يم

ولې څنې نومونه کله کله د شاعرانولپاره د وياړلوکلمو په بڼه ياد استورو،استعارواوکنايو په توګه، ځانګړی ريتم او ارزښت لري،خو په تاريخي لاسوندونوکې د يوه هېواد سياسي جغرافيه خپل تعريف لري.

په اصل کې تاريخي جغرافيه د يوه تاريخي کلتوري چاپېريال انځورول دي او معاصر تاريخپوهان، ډېر ټينګار په تعليلي، تحليلي او څېړنېزتاريخ کوي نه په دې چې ديوه سيلاني په څېړيوازې د نوم په يادولو بسنه وکړي.

هغه تاريخپوهان، چې د اکاډيمېکې پوهې درلودونکي دي هڅه کوي، چې د ساحوي څېړنو-field) (work پر مټ د لرغوني تاريخ په رڼا کې تاريخي پېښې وسپړي او د اوسمهال له ژوند سره يې پرتله کړي، دا ځکه چې په تاريخ ليکنه کې بايد له وګړ پوهنې (anthropology) توکمپوهنې (ethnology)، لرغونپوهنې (archaeology) ټولنپوهنې (sociology) او له نورو ټولنيزو او اقتصادي توکونه نه استفاده وشي.

د افغانستان د تاريخي او ملي ارزښتونو په رڼا کې، چې څومره د خراسان د نوم خبره ده، غوره به وي چې تاريخي او جغرافيوي متونو ته سرښکاره کړو:

لومړۍ خبره د خراسا ن له نامه نه پيلوو او ډېر څېړونکي پدې اند دي، چې خراسان د لمر خاته (مطلع الشمس) په مانا دی. خور= خرياني لمر او «اسان» ياني ځای ... مفاتيع العلوم خوارزمي په دې ټينګار کوي (۷۲ مخ) چې خراسان په پهلوی کې د ختيځ په مانا دی.

د اسلامي پېر ګڼو څېړونکو او تاريخ پوهانو د خراسان کلمه، چې له «خر» او «اسان» څخه جوړه ده، هماغه د ختيځ په مانا ګڼلې ده . لويد يځو تاريخپوهانوهم د خراسان نوم د ختيځې سيمې په مانا کارولی دی. دا چې د خراسان د جغرافيي په اړه کومې څرګندونې شويدي، ټول تاريخپوهان بيا په يوه خوله ندي ، څنو دغه جغرافيه د سيمې په څو ښارونو او ولايتونو محدوده کړېده او څنو بيا دومره پراختيا ورکړې، چې له مېنځنی اسيا، سمرقند نه راواخله تر پارس، افغانستان او ان د هند تر نيمې وچې پورې ر سولې اوياد هېوادونه احتوا کوي.

په ارمني ژبه يوه کتاب کښل شوي او انګېرني دا ښيي، چې موسی خورني (موسس خور ناتسي) په پنځمې زيږدي پېړۍ کې ليکلی دي، چې په بنسټيزه توګه مېنځپانګه يې د بطليموس جغرافيي سره سرخوري، چې د ايران فلات يې په څلورو برخو وېشلی دی، لومړی برخه يې پخپله لويديځ دويمه برخه يې په سهل کې نيمروز، دريمه برخه يې په ختيځ کې خراسان او څلورمه برخه يې په شمال کې کپکاس په ګوته کړی دي.

په لړ توپير نوم ورکي تاريخپوه د «سيستان په تاريخ کې د خراسان په اړه داسې ډاګيزه کړېده:

»څومره چې شمال پلوته ځو باختر دی، که سهل خواته ځو نو نيمروز دی، ولې منځنی برخه په دوه برخو وېشو اول هغه دا، که څومره لويديځ لورته ځو د ايران ښارونه دي او که ختيځ پلو ته ځو نو خراسان دی«. (3)

د افغانستان د تاریخي جغرافیي لیکوال د دایرة المعارف له قوله کښلي دي: «د خراسان کلمه په ظاهر کې د پارس د ساسانیانو له دورې راهیسې پداسې تعبیر مینځته راغلی ده چې د افغانستان د هېواد یوه برخه د پارس هېواد په ختیځ کې پرته وه،چې په هغې باندې خراسان(مطلع الشمس)نوم ایښی وو"(4)

عربي او ایراني لیکوالو په وار وارکښلي دي. «خراسان په شپږمې زیږدي پېړۍ کې څلور موهم ولایتونه درلودل، چې اسلامي مورخینو د څلورو سترو( ربعو) نوم ورکړیدی لکه بلخ، هرات، مرو او نیشاپور «الپتګین د لومړي عبد المالک ساماني له خوا د خراسان په سپه سالارۍ وګمارل شو، د نوموړي له مرګ نه وروسته د منصور بن نوح ساماني له امره یې سر غړونه وکړه له خراسان نه د غزني او زابلستان (۳۵۰ ه) په لور رهي شو، چې دغه مهال د غزني واکمن «لویک» وو"(5)

میر محمد صدیق فرهنګ پرته له کوم لاسوند او ر یفرنس نه د خپل کتاب په ۲۱ مخ کې لیکلي دي: «د جغرافیه له مخې خراسان په څلور لارو کې پروت وو، ایران او مدیترانیوي هېوادونه، ختیځ ته هند، او بل لور ته ماورالنهر، ترکستان او چین هېواد وو." (6)

ولې په همدغه مخ کې څو کرښې وړاندې داسې کاږلي دي، چې د ایران په فلات کې وروستۍ ځمکه د خراسان وه، چې د عربو په ولکه کې پرېوته ... کله چې د عباس عربو زور او به شو لومړنۍ ناحیې چې د ازادي ادعا وکړه خراسان وو. د دغې ازادۍ لویه ګټه د درې ژبې ادبیات وو، چې لومړۍ په خراسان او ماورالنهر کې تر سترګو شول او وروسته یې ټول فلات ته لاره پرانسته ، خو دلته دوه خبرې د پام وړ دي، لومړۍ دا چې د ده موخه د درې ادبیاتو پر بنسټ ښایي تخارستان او یا باختر وي . !؟ دویم دا چې دایران فلات یادوي نو بیا ولې د نیشاپور او په ټوله کې د «پارتیانو» یادونه نکوي؟ امکان ولري، چې د ده د معلوماتو کچه همدومره وه او هغه اسانتیاوې او څېړنیز معلومات چې اوس په واک کې شته، د نوموړي په وخت کې شتون نه درلود.

ولې موږ په تېر کې وویل، عباسیان څه چې امویان هم له سیستانه تر بست پورې د بشپړ واک او ځواک څښتن نه ول.

دا چې عرب جنګیالي څرنګه سیمې ته رانوتل او بیا یې لومړۍ کومې سیمې د خراسان په نوم ونومولې؟ ښه به وي چې لږ شاته وګورو او پدې پوه شو، چې د خراسان کلمه کله او د چا له خوا د لومړي ځل لپاره وکارول شوه؟

## پارت، ساسان او خراسان

پارت (پارتیان) د افغانستان له اریایي قبیلو څخه یو موهم اصلي ټبر وو، چې په دویمه مخزیږدي پېړۍ کې د واک خاوندان شول. دوی د ساکانو یوه څانګه او یا د هغو سکه تربوران وو.

میرغلام محمد غبار بیا په دې اند دی چې:

"په دویمې مخزیږدي پېړۍ کې دغه سلطنتی کورنی پارت خراسان د افغانستان، اصلي اریایان دي او یو شمېر دوی د «داهای اسکایي» له قبیلې څخه دي. له دوی څخه «ارشاک بلخي» خراسان ته لاړ، د یوه حکومت او دولت بنسټ یې کېښود او د پارس په هېواد کې د یونانیانو ځای ناستي شول."(7)اوس نو له دې څخه ښکارې چې د اصلي خراسان سیمې کومې وې؟

پارتیانو چې په کومو سیمو کې واک چلوه، هغه هېواد یې د «پارتیا» په نوم یادوه، چې څلور خواوې په دې ډول وې:

له هریرود نه د خزر تر سمندرګي پورې، چي د «مد یا» له پولو نه پیلېده، په اصل کي له دوه ولایتونو «هیرګانیا» او «پارتیا» څخه، چي د اریانا په شمال لویدیځ کي موقعیت درلود ،جوړو. ولې کله کله په بیلابیلو نومونو او تر ډېره د «پارتیا» پنوم یادېده.

د پارتیا په جغرافیه کي، چي د پارتیانو د واک سیمي وې دغه ولایتونه شامل وو، نیشاپور، توس، جوین، سبزوار، شاه رود، دامغان او د پارس شمال ختیځ ته یو شمېر پرتي ځمکی د ساري په توکه یادولی شو.

دا چي غبار د «پارت خراسان» نوم د یوه مرکب نوم په بڼه کښلی دی، خپله موخه یې نده واضح کړې !؟ ښایي موخه یې دا وي، هغه مهال چي د پارتیانو د سلطنتي کورنی موسس «ارساس» بلخي کمزوری شو څو سیمه ییزه حکومتونه مینځته راغلل، چي یو شمېر یې په پار س (اوسني ایران )او یو شمېر نور یې په افغانستان کي جوړ شول.

د ارساس کورنی وروستي پاچا ساسانیانو ته د یاغي او باغي خطاب وکړ، که څه هم جنرال اردشیر لا په درې پرلپسي جګړو کي د پارت پاچا «ارته بانوس» په ځانګړي ډول په وروستی جګړه کي داسي ځپلی وو، چي بیا یې د «سوسیاني» له ماتي وروسته سر راپورته نه کړ ، که څه هم د پارت «ارساس» کورنۍ یو تن د خسرو په نوم په ارمنستان کي لس کاله نور هم حکومت وکړ.

احمد علي خان کهزاد د پارتیانو په هکله په دغو ټکو ټینګار کوي، چي «پارتیا ن یوه اریایي څانګه ګڼل کیږي او یو باختري (پکت=پخت=پختي) ټبر دی، چي په اوستا کي بخدي د بلخ لرغوني نوم دی.

په ریګوید کي پکهت = پخت زکر شویدی ،ددوئ استوګنځاي د اریانا په جنوب ختیځ د «سپیتاګوناګیري» (سپین غر) په مینځ کي دوی د «پکتیا=پختیا» په نوم نامتو شول... (8)

د بیستون په ډبر لیکنو کي د لرغوني پارتیا (پرتو=پارتو) نوم د «ت» پر ځاې «ث» کښل شویدی یاني پارثیا=پرثو، چي له پختیا سره اړخ لګوي.

هېرودوت بیا پارتیان د اپاریتي په بڼه کارلي دي، چي ښایي اوسني اپریدي (اپریتي=اپریدي) وي.

ساسان پخپل وخت کي یو نامتو شخص وه او پخپله یې له یوې نامتو کورنی سره تړاو درلود او ده هغه وخت له سلطنتي کورنی سره اړیکي ټینګي کړې، چي له هغو سره یې خېښي او خپلوي وکړه.

د ساسان دنده د مزدک خدمت وه او زوی پاپک، چي مور یې بزرنجي سلطنتي کورنی څخه وه، د ساسان له مرګ نه وروسته د همغه مزدک مجاور او پالوونکی شو.

زوی «اردشیر» د پوځ قومندان شو، د پارت پاچا «ارته بانوس» ته یې ماته ورکړ او هغه د پارتیا ختیځ ته پرشا شو . دلته دی چي د «خراسان» کلمه د bazrangi سلطنتی کورنی په دربار کي یاده شوه، خو کوم ټاکلی نوم او ځاې چي کومي سیمي سره تړاو درلود په ګوته نشو.

د خراسان نوم، د لوري او طرف په مانا وکارول شو، چي موخه ترې ختیځ وه، خو دغه ختیځ نه خارجي وجود درلود او نه جغرافیوي حدود . !؟

کله چي د عربو په برید د اسلام سپېڅلی دین سیمي ته ورسید او دریم یزدګرد له وېرې د اصفهان ختیځ ته مخه کړه، یو ځل بیا عربود خراسان اصطلاح وکاروله.

په لومړي سر کي چي عرب جنګیالي د یزدګرد په لټه مخ په «خراسان» وخوځید او دا هغه مهال وو، چي لا یزدګرد د اوسني ایران له جغرافیي وتلی نه وه، او عربانو د خراسان پنوم خپل لومړی پوځي پلاز «نیشاپور» وټاکه.

د ارمني ژبې په تړاو یو کتاب، چې ویل کیږي موسی خورنی (د خورناتسي موسس) چې یو ارمني تاریخپوه دی ،ده خرا سان «له همدان او کومش نه تر مروې ، هرو، کا تا شان ، بژین ( غر جستان)، ګوزګان، سمنګان، بامیکان او نورې سیمې په ګوته کړیدی.» (9)

یو شمېر نورو ګنو څېړونکو له کومش او همدان نه نیولی تر ګوزګان، سمرکند او بلخ بامي پورې ځمکی د خراسان برخه ګڼي . کریستن سن بیا په دې اند دی، چې «له اوسني تهران نه نیولې تر البرز غرونو، همغسي د خزر تر سمندرګي، مرو، د پامیر غرونه، بدخشان، هرات او یو شمېر نورې سیمې د خراسان برخه وه. " (10)

په اسلامي پېر کې عجمی او عربي لیکوالو لکه ابن خرداد، مسعودی، اصطخري، ابن حوقل، احمد بن عمر، ابو زید بلخي، مطهر بن طاهر، یاقوت حموی، احمد بن ورضع یعقوبي، ناصر خسرو قباد یاني بلخی، منوچهري دامغاني او په لسګونو نورو د خراسان په اړه څرګندونې کړیدي، چې په ټوله کې دغه سیمې د خراسان برخه ګڼل شوېده ، خونه یې کوم سیاسي تشکیل درلود اونه هم دکوم هېواد نوم و،لکه خوارزم، تاشکند، سمرقند، طاربند، بخارا، بلخ تخارستان، نیشاپور، فرغانه، سغدانیه، بدخشان، واخان، زرنج، جوین، پوشنج، بادغیس، طبسین، طوس، مرو، سرخس، ماورالنهر له بخارا تر سغدانیه، ګرګان، بامیان او یو شمېر نورې لوی او وړې سیمې د یادولو وړ دی.

ولې ډېر څېرونکي او تاریخپوهان، په یوه خوله په دې ټینګار کوي، چې تر ډېره بریده د خراسان موهم ښارونه نیشاپور، مرو، هرات او بلخ دي،ولې ددغوسیمو لرغونی تاریخ له خراسا نه ډېره تاریخي دب دبه لري.

د عربو جنګیالیو مشر، چې یزدګرد یې له اصفهانه ښاره وویل چې هغه مخ په ختیځ یانی خراسان مخته ځي او شاته ډزې کوي . ده په پای کې ماته وخوړه او د نهاوند له جګړې (۲۰ ه) وروسته په مروه کې له «ماهوي» سوري نه پناه وغوښته.

هغه مهال چې عبد الرحمن بن سمره د سیستان او ارغنداو په ناوه کې پرمختګ وکړ، ولې په مروه کې امیر بن احمر (۴۵ ه) د خراسان یو شمېر سیمې لاندې کړې او یو د بل پسې ربیع بن زیاد حارثی او سعید بن عثمان د خراسان والیان وټاکل شول او له امو روده پورېوتل.

خو کله چې قتیبه ابن مسلم له سیستانه راوګرځېد د خراسان حکمران وټاکل شو او په مروه کې ځای پر ځای شو.

د دې خبرې مانا دا ده چې د خراسان او سیستان سیمې سره بېلې وې او خپل بېل پوځې تشکیل او جوړښت یې درلود.

لکه څرنګه چې د خراسان حکمران قتیبه له مروی نه مخ په باختر او تخارستان پرمختګ وکړ، خو د سیستان په جبهه کې عبد الرحمن بن سمره بست، کش، کندهار، هلمند، د ارغنداب تر ناوې پورې سیمې لاندې کړې. له دریم خلیفه حضرت عثمان (رض) نه نیولې تر اموی او عباسی پېر پورې دغه سلسله روانه وه، تر هغې چې ابو مسلم، سوریان ،استاد سیس هېروي ، حریش سیستانی، محمد د شداد د زوی، او اذروبه د مرزبان زردشتي زوی، د طاهر پوشنج او نورو په مشرۍ په افغانستان کې یو د بل پسې ملي خوځښتونه او پاڅونونه مینځته راغلل د دغو ملي ازادي بښونکو اتلانو په لړ کې یو هم امیر حمزه سیستاني وو، چې د ازادۍ ډګر ته راووت.

امیر حمزه د عبد الله سیستاني زوی پداسي مهال سیاسي ډګر ته راودانګل چې سیمه له سیاسي کړکېچ سره لاس و ګرېوان وه. ده د هارون الرشید والي عیسی بن علي له واکه وشاړه او په زرنج یې برى وموند، دغه اتل چې زرنج ونیو بیا یې په نیمروز کې ځان پیاوړی کړ، نو وې پتیله چې د خراسان

پوځي پلاز نيشاپور ونيسي، چې بيا عرب جنګيالی له دې لارې نه پوځی اکمالات ونشي کړي. امير حمزه له پرلپسې بريدونو وروسته له نيشاپوره بيرته سيستان ته (۱۸۸ ه) راستون شو.

ده پدې پاڅون سره د عباسيانو واکمنی سخته وګواښله، نو ځکه خو په خراسان او د سيستان په پلاز نيمروز کې د ازادۍ بيرغونه رپانده شول.


1) فرهنګ مير محمد صديق افغانستان در پنج قرن آخر ۱۸ مخ

2) جاويد ډاکټر عبد الحمد اوستا ۱۸-۲۳ مخونه

3) د سيستان تاريخ ۲۳ مخ، د افغانستان د تاريخي جغرافي . مخ

4) د اريانا دايرة المعارف ۵ ټوک ۴۸۱ مخ

5)همدغه اثر ۶۲۱ مخ

6) افغانستان در پنج قرن آخر ۲۱ مخ

7) غبار مير غلام محمد تاريخچه مختصري افغانستان ۱۵ مخ

8) کهزاد احمد علي د افغانستان تاريخ ۳۷۷ مخ
9) تاريخ تمدن ايران ساساني ۳۲۰ مخ

10) کرستن سن، ايران درعصرساساني

***

NATIONAL DISCOURSE OF AFGHANISTAN